ژباړن:وجیه الله شپون

# د افغانستان د علومو اکاډمي تاریخچه

د دې علمي- څېړنیزې ادارې اساس او بنسټ شاوخوا۹۰کاله مخکې وخت ته رسیږي چې په دې ډول دی:

**پښتو مرکه:** یا«مرکه د پښتو» د۱۳۰۱ش.کال د عقرب په میاشت(۱۹۲۲م.)کې د شاه امان الله خان د واکمنۍ په دوره کې د مولوي عبدالواسع په ریاست د کابل د ارګ په شمالي برج کې پرانستل شوه او په ۱۳۰۲ش. کال(۱۹۲۳م.)یې د دریم ریاست په توګه د پوهنې وزارت په اډانه کې فعالیت کاوه او په هېواد کې د لومړني علمي او اکاډمیک مرکز په توګه پېژندل شوی دی. دا مؤسسه د ۱۳۰۳ش.کال په اړودوړ کې له منځه ولاړه.

**کابل ادبی انجمن:** د ایجاد فرمان یې د محمد نادرخان د واکمنۍ پرمهال(۱۳۰۹ش.)صادر او په ۱۳۱۰ش. (۱۹۳۱م.)کال د «کابل»مجلې په خپرېدو سره یې رسماً کارپیل کړ او لومړنی رئیس یې محمدنوروزخان و. دا انجمن په ۱۳۱۱ش.کال یعنې د خپل فعالیت په دوهم کال یې«سالنامۀمجلۀکابل» هم تر څلورمې ګڼې خپره کړله او کله چې انجمن په «پښتو ټولنه»بدل شو د سالنامې نوم «کابل کالنی» شو او تر ۱۸ګڼې پورې دپښتو ټولنې له لارې خپرېده. په ۱۳۲۹ش.(۱۹۵۰م.)کال د کالنۍ د خپرېدو لړۍ د مطبوعاتو په مستقل ریاست پورې اړونده شوه. «کابل»مجله تراوسه په علوموااکاډمي کې د ژبو او ادبیاتو د مرکز له خوا خپریږي.

**کندهار ادبي انجمن(پښتو ادبی انجمن):** د۱۳۱۱ش.کال په منې(۱۹۳۲م.)کې یې د محمدعثمان خان بارکزي په ریاست فعالیت پیل کړ او د دې انجمن خپرنیز ارګان«پښتو»مجله وه، چې تر اوسه د علومواکاډمي په اډانه کې د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز له خوا د یونسکو په رسمي ژبو خپریږي.

**پښتو ټولنه:** د ۱۳۱۶ش.کال دِغویي په میاشت(۱۹۳۷م.)کې د پورته یاد شوو انجمنونو له یوځای کېدو څخه «پښتو ټولنه»د یوې علمي او اکاډمیکي ادارې په توګه رامنځ ته شوه او د وخت د پوهنې رئیس سردار محمدنعیم خان یې افتخاري رئیس و. «پښتو ټولنه»چې د«پښتو اکاډمي او افغان اکاډمي»په نومونو هم یاده شوې ده،په۱۳۱۸ش.کال، د مطبوعاتو د مستقل ریاست تر ایجاد وروسته په دغه نوی تشکیل شوي ریاست پورې اړونده شوه. دا مؤسسه له ۱۳۳۰ش.کال وروسته په نړیوال سطحه یوه علمي اکاډمي ومنل شوه، فعالیتونه یې د نورو علمي او اکاډمیکو ادارو غوندې معیاري شول او همدارنګه له همدغه کاله یې له نورو اکاډمیو سره د اړیکو ټینګول پیل کړل. په ۱۳۳۳ش.کال یې اساسنامه ترتیب او په ۱۳۳۴ش.(۱۹۵۵م.)کال د اعلیحضرت محمدظاهرشاه تر منظورۍ وروسته چاپ او خپره شوه. د یادونې وړ ده، چې په ۱۳۳۵ش. (۱۹۵۶م.)کال پښتو ټولنه د مطبوعاتو له مستقل ریاست څخه جلا او د پوهنې په وزارت پورې وتړل شوه.

په همدغه وخت کې د دې ادارې مسلکي غړو ته د پوهنتون د استادانو غوندې علمي رتبې:

څېړونکی= پوهیالی

څېړنیار= پوهنیار

څېړنمل= پوهنمل

څېړنوال= پوهندوی

ځېرندوی= پوهنوال
ځېرنپال= پوهاند
او د علمي کادر امتیاز(۵۰۰، ۸۰۰، ۱۰۰۰، ۱۵۰۰، ۲۰۰۰، ۳۰۰۰افغانۍ) ومنل شول او پښتو ټولنه د یوې علمي- څېړنیزې مؤسسې په توګه وپېژندل شوه. خپرنیز ارګانونه یې «کابل»مجله، «زیری» او «هېواد» جریدې وې. «کابل» مجله او د «زیري» جریده تر اوسه پورې د علوموااکاډمي د ژبو او ادبیاتو د مرکز له خوا چاپ او خپرېږي. په ۱۳۶۵ش.کال کې د وزیرانو د شورا د پرېکړې پر بنسټ د «زیري» جریدې چاپ ودرېد، خو په ۱۳۸۱ش.کال یې خپرېدل بیا پیل شول.
«هېواد»جریده لومړی ځل په ۱۳۲۸ش.(۱۹۴۹م.)کال خپره شوه او د امتیاز څښتن یې عبدالرؤف بېنوا و. دا جریده په ۱۳۳۳ش.(۱۹۵۴م.)کال له پښتو ټولنې څخه جلا شوه.
کوم مهم کارونه چې پښتو ټولنې هغه مهال تر سره کړي دي ځینو ته یې په لاندې توګه اشاره کیږي:
- په پښتو ژبه کې د لیکنې واحده لار دودول
- د یوې مجلې او دوو جریدو چاپول
- د کتابونو چاپول
- د دایرة المعارف چاپول
- د کالنیو چاپول
- د سیمینارونو جوړول
- مشاعرې کول
- د شخصي او دولتي مؤسسو نومول، چې د پښتو ټولنې موافقه به په رسمي توګه اخیستل کېده.
وروسته دا کار تر ځو کالو پورې د علوموااکاډمي له خوا ترسره کېده، خو اوس د نورو ادارو له خوا کیږي.
**<u>د دایرةالمعارف د انجمن مدیریت:</u>** په ۱۳۲۰ش.(۱۹۴۱م.)کال د پښتو ټولنې په تشکیل کې چې دغه مهال پښتو ټولنه د مطبوعاتو په مستقل ریاست پورې تړلې وه، تأسیس شو. لومړنی مدیر یې میاحسن خان و. په ۱۳۲۵ش.کال یې عمومي مدیریت ته ارتقاء وکړه او محمدهاشم پردېس(میوندوال) د دې انجمن لومړنی عمومي مدیر و.
په ۱۳۲۸ش.کال کې د پښتو دایرةالمعارف لپاره جلا مدیریت جوړ شو. په لومړۍ دوره کې د آریانا دایرةالمعارف د چاپ لپاره یو پروګرام جوړ شوی و، چې هر ټوک یې باید ۱۰۰۰مخه وي او د بشپړېدو تر مهاله، هر ټوک یې په پنځو۲۰۰مخیزو جزونو کې چاپ او خپور شي. پر دې بنسټ له پلان سره سم د آریانا دایرةالمعارف لومړی او دوهم جزء په ۱۳۲۷ش.کال په ۲۰۰،۲۰۰مخونو کې چاپ او دریم، څلورم او پنځم جزء په ۱۳۲۸ش.کال چاپ شول. په دې توګه د آریانا دایرةالمعارف لومړی ټوک په دري ژبه په ۱۳۲۸ش.کال بشپړ او په ۱۰۰۰مخونو کې چاپ او خپور شو.د دوو لومړنیو جزونو یعنې لومړي او دوهم جزء د چاپ پرمهال میرعلي اصغر هاشمي د دایرةالمعارف د عمومي مدیریت کفیل و او بیا وروسته عمومي مدیر وټاکل شو.
د دې دورې وروستی(شپږم)ټوک په ۱۳۴۸ش.(۱۹۶۹م.)کال بشپړ شو. په ۱۳۲۹ش.کال په پښتو ژبه لومړی ټوک یې د غلام جیلاني جلالي په مدیریت، چې د پښتو برخې لومړنی مدیر و، چاپ شو او وروستی (اووم)ټوک یې په ۱۳۵۵ش.(۱۹۷۶م.)کال چاپ او خپور شو.
په لومړۍ دوره کې، آریانا دایرةالمعارف په پښتو ژبه اووه ټوکه او په دري ژبه شپږ ټوکه درلودل. د یادونې وړ ده چې دې انجمن په پښتو او دري ژبه پر آریانا دایرةالمعارف سربېره، د

افغانستان جغرافیایي قاموس په پښتو ژبه په شپږو ټوکونو او په دري ژبه په څلورو ټوکونو کې هم چاپ کړی دی. اوس د دایرةالمعارف مرکز د علوماکاډمي په اډانه کې فعالیت کوي.
**د تاریخ انجمن:** په ۱۳۲۱ش.(۱۹۴۲م.)کال د مطبوعاتو د مستقل ریاست په چوکاټ کې د عمومي مدیریت په بڼه جوړ شو او لومړنی مدیر یې احمدعلي کهزاد و. د دې انجمن خپرنیز ارګان «آریانا»مجله وه، چې میاشتنۍ چاپېدله او لومړنۍ ګڼه یې د ۱۳۲۱ش.کال د سلواغې په لومړۍ نېټه خپره شوه. همدارنګه دې انجمن د خپلو فعالیتونو د څلولو او خپرولو لپاره د «افغانستان»مجله د یونسکو په دوو ژبو؛ انګلیسي او فرانسوي په ۱۳۲۵ش.(۱۹۴۶م.)کال افتتاح کړه، چې ربعواره چاپېدله. اوس د آریانا او افغانستان مجلې په علوماکاډمي کې د ټولنیزو علومو د مرکز له خوا چاپیږي.
**د لرغونپېژندنې آمریت:** په ۱۳۴۵ش.(۱۹۶۶م.)کال د لرغونپېژندنې د انستیتوت په نامه د اطلاعاتو او کلتور وزارت په اډانه کې تأسیس شو. مؤسس یې دکتور شاهي بای مستمندي و. د دې مرکز دوه انستیتوتونه؛ د لرغونپېژندنې انستیتوت او کوشاني انستیتوت او درې خپرونې(باستانشناسي مجله، هرات باستان مجله او کوشاني مجله)درلودې. «هرات باستان»مجله د لرغونپېژندنې د آمریت خپرنیز ارګان و، چې په ۱۳۵۸ش.کال یې خپل فعالیت پیل کړ. دا مجله په ۱۳۶۵ش.(۱۹۸۶م.)کال د وخت د وزیرانو شورا د پرېکړې پر بنسټ ودرېده، خو باستانشناسي او کوشاني مجلې تر اوسه د علوماکاډمي له لارې خپلو خپرونو ته دوام ورکوي.
**د کوشاني څېړنو نړیوال مرکز:** په ۱۹۶۶م.کال د یونسکو د عمومي مجمع د څوارلسمې غونډې او په۱۹۶۸م.کال د یونسکو د عمومي مجمع د پنځلسمې غونډې د۳۲۳ او ۳ګڼه پرېکړه لیکونو له مخې، چې په منځنۍ اسیا کې د کوشاني مطالعاتو او د لرغونپېژندنې د مطالعاتو د انسجام لپاره وو، د۱۹۷۰م.کال د مې په ۱۲نېټه په کابل کې یوه نړیواله غونډه جوړه شوه. دا نړیوال سیمینار د منځنۍ آسیا د مدنیت د پروژې پر بنسټ د کوشاني څېړنو په برخه کې د یو کاري چوکاټ د جوړېدو او انکشاف په موخه د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور وزارت له خوا تنظیم او علامه حبیبي یې د رئیس په توګه ټاکل شوی و. د کابل په دې نړیوال سیمینار کې د منځنۍ اسیا پنځو هېوادونو، په افغانستان کې د لرغونپېژندنې د پلاوي رئیسانو، د فرانسې، د المان د اتحادي جمهوریت، انګلستان او امریکا یو شمېر پوهانو ګډون کړی و. په سیمینار کې په کابل کې د کوشاني څېړنو د مرکز د فعالیتونو او د لرغونپېژندنې د کار په اړه راپور د دکتور شاهي بای مستمندي له خوا وړاندې شو. همدارنګه د سیمینار د ګډونوالو هېوادونو استازو د لرغونپېژندنو د کیندنو په اړه لنډې بیانیې واورولې.
په دې سیمینار کې ځینې پرېکړې هم وشوې لکه، چې پرېکړه وشوه د کوشاني څېړنو په اړه دې په افغانستان کې په کال کې یوه خپرونه خپره شي، د هغې پېښتې دې په کابل کې د نړیوال کوشاني سیمینار په ځانګړې نخښه باندې ښکلې شي او په هغې کې دې د نړۍ د کیندنو، اکتشافاتو او څېړنو پایلې خپرې او د کوشاني څېړنو اړوند کتابونه دې په دې خپرونه کې معرفي شي. همدارنګه پرېکړه وشوه،چې د کوشاني هنر او معمارۍ په اړه دې یو البوم چمتو شي او البوم ته چمتو شوي مواد باید نه یوازې د انځورونو درلودونکي وي چې یوازې لوړ هنري ارزښت لري، بلکې د خلکو د عامه هنرونو یوه تشریح هم باید وي او زیار وایستل شي هغه مواد په البوم کې ځای کړل شي، چې کم معرفي شوي وي او اهمیت ولري. سربېره پر دې پرېکړه وشوه چې په هرو دوو کلونو کې دې د پروژو د انکشاف د څېړنې او د راتلونکي خط و سیر د ټاکلو په منظور یو ځل سیمینار جوړ شي، له یونسکو څخه دې د غونډو د تمویلولو غوښتنه وشي او کوشاني مرکز دې دا موضوع تعقیب کاندي.

په دې ترتيب د کوشاني څېړنو د نړيوال مرکز د رامنځ ته کېدو لپاره په ۱۳۵۴ش.(۱۹۷۵م.)کال د اطلاعاتو او کلتور وزارت په اداره کې د يوې اړتيا په توګه زمينه برابره شوه.
د دې مرکز خپرنيز ارګان د «تحقيقات کوشانی»مجله ده، چې لومړۍ ګڼه يې په ۱۳۵۷ش.کال خپره شوه او تر اوسه د علوموااکاډمي په چوکاټ کې خپل خپرنيز فعاليت ته دوام ورکوي.
**د پښتو څېړنو نړيوال مرکز:** دا مرکز هم په ۱۳۵۴ش.(۱۹۷۵م.)کال جوړ شو او د۱۳۵۵ش.(۱۹۷۶م.)کال د لړم په مياشت کې يې تشکيل منظور شو. د دې مرکز د ايجاد په اړه، سربېره پر دې چې په تاجکستان کې په ۱۹۶۸م.(۱۳۴۷ش.)کال د يونسکو د عمومي مجمع د نړيوال کنفرانس په ترڅ کې د کوشاني څېړنو د نړيوال مرکز د ايجاد تر څنګ پرېکړه وشوه، د يونسکو په مرکز پاريس کې د۱۹۷۳م.کال د جولای په ۲۳نېټه(د۱۳۵۲ش. د زمري مياشت لومړۍنېټه)د منځنۍ آسيا د مدنيت د مسايلو د څېړني په درې ورځنۍ نړيواله غونډه کې د افغانستان د استازي د وړانديز په اړه، چې په افغانستان کې د پښتو څېړنو د نړيوال مرکز د ايجاد په اړه و، هم موافقه وشوه او پرېکړه وشوه، چې دا مرکز د يو نړيوال سيمينار په ترڅ کې پرانستل شي. سيمينار د۱۹۷۵م.کال د نومبر په۲۲- ۲۹نېټه(د۱۳۵۴ش.ليندۍ مياشت)د يونسکو په مرسته په کابل کې جوړ شو او پر کورنيو پوهانو سربېره بهرنيو پوهانو په کې هم ګډون درلود. پروفيسور مورګنستيرنه د نورو بهرنيو پوهانو په استازيتوب خبرې وکړې او په افغانستان کې يې د پښتو څېړنو د نړيوال مرکز په جوړېدو خوښي او هيله مندي څرګنده کړه. په دې ترتيب سره د پښتو څېړنو نړيوال مرکز د پښتو ټولنې په اداره کې پرانستل شو. په ۱۳۵۶ش.کال د همدې مرکز له خوا «پښتو»مجلې خپلې خپرونې د يونسکو په ژبو پيل کړې. دا مرکز په ۱۳۵۷ش.کال د نورو علمي-څېړنيزو ادارو تر څنګ د افغانستان د علومو په اکاډمي کې مدغم شو او نشراتي ارګان(پښتو مجله)يې تر اوسه د علومو اکاډمي په چوکاټ کې فعاليت کوي.
**دې ټولو مؤسسو مستقلې تګلارې درلودې،چې په جلا چوکاټونو او ادارو کې يې فعاليت کاوه او حتی ځينو يې په تګلارو کې ورته والی هم درلود.**

**په پورتنيو يادو شوو علمي مؤسسو سربېره،** د هېواد د پوهانو له لوري هم په افغانستان کې د يوې اکاډميکې لوړې علمي- څېړنيزې مؤسسې د ايجاد په لار کې هڅې روانې وې.
معتبر اسناد په ډاګه کوي، چې د «افغان اکاډيمي»په نامه د يوې اکاډمي طرحه د ۱۳۴۶ش.کال د تلې په ۲۲مه د محمدظاهرشاه(د ملت بابا)د زوکړې په مناسبت تر کار لاندې ونيول شوه، چې مرامنامه او اداري تشکيلات يې هم درلودل او د سلطنتي کورنۍ يو شهزاده د هغې عالي رياست ته او د اطلاعاتو او کلتور وزير يې د عمومي مدير په توګه ټاکل کېدل، خو دا اکاډمي د وزيرانوشورا د مصوبې او د سلطنتي مقام له ملاحظې سره سره د کار په پيلولو باندې توانېدلې نه وه.
وروسته د وخت د اطلاعاتو او کلتور د وزير کانديد اکاډميسين دکتور محمود حبيبي د پاملرنې او په هغه غونډه کې د سلطنت د مقام د موافقې د اخيستلو په اثر، چې په کابل کې جوړه شوه او په هغې کې د صدارت په مرستيالانو؛عبدالله يفتلي او دکتور عبدالقيوم سربېره د اطلاعاتو او کلتور لوړ پوړو چارواکو لکه د اطلاعاتو او کلتور وزارت معين محمدخالدخان روشان او د هېواد د پوهې او ادب د ډېرو اکثرو مخکښانو لکه: د تاريخ انجمن رئيس عبدالحی حبيبي ، د راډيوافغانستان رئيس دکتور عبداللطيف جلالي ، د خپرونو رئيس حبيب الرحمان جدير ، د اصلاح ورځپاڼې مسئول سيد فقير علوي ، د هيواد ورځپاڼې رئيس مير سعيد بريمن ، د انيس ورځپاڼې مسئول مديرکريم روهينا ، د باختر آژانس رئيس عبدالحميد مبارز او نورو پوهانو؛ لکه محمد کريم نزيهي، محمد ابراهيم صفا، دکتور سيد بهاءالدينمجروح، خال محمد خسته، غلام محمد نويد، سيد

محمد قاسم رشتیا، محمد اسماعیل مبلغ، صالحمحمد پرونتا، عبدالوهاب طرزي، محمد صدیق روهي، میر محمد صدیق فرهنګ، محمد حسنکاکړ، محمد رسول امین، حبیب الله تږي، محمد ابراهیم ثابت او محمد هاشم رحیمي هم ګډون درلود، د غونډې د ګډونوالو تر بشپړ تائید او موافقت وروسته په دې برخه کې یو نهایي وړاندیز د وزیرانو مجلس او سلطنتي مقام ته وړاندې شو.
**<u>په دی ترتیب سره د طلاعاتو او کلتور وزارت«د افغانستان اکاډیمی»دملی فرهنګ او د افغانستان د تاریخ پر بنسټ ولاړه د علم او ثقافت د یو مرکز په توګه د۱۳۴۹ش.کال د ورې میاشتی د دوهمی نېټی د(۱۰)ګڼه فرمان له مخی تأسیس کړه او شاه محمود خان یی د افتخارې رئیس په توګه وپېژندل شو.</u>**

**د افغانستان اکاډیمي،** یوه عالي شورا او لاندې څانګې درلودې :
۱- د تاریخ او ادب د انجمن ریاست.
۲- د آریانا دایرة المعارف ریاست.
۳- د ملي ژبې پښتو د پیاوړتیا او پراختیا آمریت.
همدارنګه له اداري آمریت او د بودجې له منظورۍ سره یو ځانګړی کتابتون.
**په یاده غونډه کې پوهانو دا نظریات هم وړاندې کړي** او مطرح کړي وو:

- پوهاند عبدالحی حبیبي ویل له افغانستان اکاډیمي سره دې د طبیعي علومو د مطالعاتو مرکز ایجاد او یوځای شي.
- سید قاسم رشتیا، محمد ابراهیم صفا، میر محمد صدیق فرهنګ او حبیب الله تږي د افغانستان اکاډیمي په داخل کې د ښکلو هنرونو د اکاډیمي د جوړېدو د اړتیا په برخه کې نظر درلود او په هغې کې یې د کابل پوهنتون د څېړنیز مرکز او همدارنګه د پښتو ټولنې د مؤسسې ادغام غوښت، خو حبیب الله تږي په داسې حال کې چې د افغانستان په اکاډیمي کې یې د بېلابېلو علومو د پوهانو مجمع پېشنهادوله، له اکاډیمي سره د پښتو ټولنې د انضمام په نفي کولو کې له محمدصدیق روهي سره همغږی و.
- محمد صدیق فرهنګ د افغانستان د اساسي قانون د دیباچې د لومړي بند د محتوا پر بنسټ د افغانستان اکاډیمي د ایجاد پر اړتیا باندې مکرر تأکید او هغې ته یې اشاره کوله:«د افغانستان د ملي ژوند د تنظیم په منظور، د عصر له غوښتنو سره سم او د تاریخ او ملي فرهنګ د واقعیتونو پر بنسټ... ».

**تر دې وروسته د افغانستان د اکاډیمي په علمي رتبو پورې اړوندې لایحې** چمتو شوې چې له «اکاډیمي یار» څخه تر«اکاډیمي پال» او«اکاډیمسین»پورې رتبې په کې وې او د پورتنیو دوو علمي رتبو واجدین نه تقاعد کېدل، د استادۍ او علمي مقام معرف او مؤید نښان یې درلود او هم یې د هغوی د ملي، تشریفاتي او شخصي حیثیت او شأن ساتنه کوله.
د یادې غونډې له پرېکړې سره سم، اکاډیمي د اکاډیمي د رئیس (فوق رتبه) تر نظر لاندې دنده اجراء کوله او
عالي شورا یې د اطلاعاتو او کلتور د وزیر په ریاست، خپل غړي د اعزازي(انتصابي)غړو له منځه او د اکاډیمي مسلکي غړي د جلا لایحې په ذریعه انتخابېدل.
**د افغانستان اکاډیمي غړي په دوو برخو ویشل کېدل:**
**اعضای افغانستان اکادیمی به دو دسته تقسیم میشدند:**
**۱- د اکاډیمي اعزازي غړي**(اکاډیمسینان)۲۵تنه وو، چې ارزښتمند علمي آثار او تألیفات یې درلودل او یا هغه فاضلان وو، چې عمر یې د ادیب او مربي په توګه په فرهنګي خدمتونو کې تېر کړی و. دې غړو د عمر تر پایه یو ټاکلی او مناسب معاش درلود او د اکاډیمي له پروګرام

سره سم د آثارو په تألیف او ترجمه ، د فرهنګي، علمي او ادبي متونو په توضیح، تحشیه او تعلیقاتو باندې بوخت وو. د اکاډیمي اعزازي غړي، د اکاډیمي د رئیس په وړاندیز، د اطلاعاتو او کلتور د وزیر په موافقې او د عظمی صدارت په تصویب د پاچا په فرمان سره ټاکل کېدل.
۲- د اکاډیمي مسلکي غړي، له رسمي مامورینو څخه تشکیل وو، لوړې زده کړې او علمي رتبې یې درلودې، چې د جلا لایحې په ذریعه ټاکل کېدل.
د اکاډیمي نور مامورین د دولت د مأمورینو د استخدام د مقرراتو تابع او د مأموریت د صلاحیت او حقوقو پوره کوونکي وو.
**<u>د هیواد د پوهانو او شاعرانو د نومونو عمومي لست، چې د دوی له منځه د تاریخ او ادب د انجمن اعزازي غړي، مسلکي غړي او همدارنګه علمي غړي او څېړونکي ټاکل کېدل، دالفبا په ترتیب په دې ډول دی:</u>** احمد علي کهزاد، امین الله زمریالی، حبیب الله تږی، خال محمد خسته، دکتور محمد اکرم، ذبیح الله رسا، سید احمد شاه هاشمي، سید بهاءالدین مجروح، سید شمس الدین مجروح، سید قاسم رشتیا، صالح محمد پرونتا، صدیق الله رشتین، ضیا قاریزاده، عبدالاحمد جاوید، عبدالحی حبیبي، عبدالخالق واسعي، عبدالرووف بینوا، عبدالرزاق پوپل، عبدالشکور رشاد، عبدالواحد واجد، عبدالهادي داوی، علي احمد نعیمي، غلام جان خان، غلام جیلاني جلالي، غلام حسن مجددي، غلام فاروق اعتمادي، ګل پاچا الفت، لعل محمد کاکړ، مایل هروي، محمد آصف سهیل، محمد ارسلان سلیمي، محمد ابراهیم ثابت، محمد ابراهیم خلیل، محمد اسماعیل مبلغ، محمد ابراهیم صفا، محمد حسن کاکړ، محمد رسول امین، محمد رفیق حبیبي، محمد شاه ارشاد، محمد صدیق روهي، محمد صدیق طرزي، محمد صدیق فرهنګ، محمد فرید، محمد قدیر تره کی، محمد کریم نزیهي، محمد ګل نوري، محمد هاشم رحیمي، مولانا عبدالعزیز قربت، نور احمد شاکر او یارمحمد نظامي.

**<u>د افغانستان اکاډیمۍ دندې او موخې، چې په همدغه غونډه کې تائید شوې :</u>**

- د متونو علمي تحلیل، کره کتنه او څېړول، د ملي ژبو په ریښو او مبداء او د هېواد په عمده پوهانو باندې، چې د افغاني ټولنې د فرهنګي او طبیعي پدیدو ښکارندوی دي، علمي او بنسټیزه څېړنه کول.
- د ارزښتمنو ټولنیزو، علمي او ادبي آثارو تألیف.
- د بشري ټولنو د ټولنیزو، فکري، ادبي او معنوي بدلونونو د ممثلو آثارو ژباړه او تحلیل او د لرغونپېژندنې او د تاریخي نوو پلټنو په ساحه کې د ترلاسه شوو نوو معلوماتو تحلیل او څېړول.
- د عصر د غوښتنو او د پښتو ژبې د علمي انکشاف او اختصاصي دایرةالمعارفونو په پام کې نیولو سره د آریانا دایرةالمعارف د تکلارې تعقیبول او پراخول او په دې برخه کې بشپړې او پرله پسې څېړونې.

څومره چې په کار وه نوموړې اکاډیمي پرمختیا ونکړای شوه او یا به له مؤقتي خنډ او ځنډ سره مخامخه وه. سره له دې ځینې کتابونه له دغه ادرسه تر سترګو شوي دي؛ لکه په ۱۳۴۹ش.کال«د خلکوسندرې»، په ۱۳۵۰ش.کال «د پښتو پخوانۍ تذکرې» او په ۱۳۵۲ش.کال«ابدالي توره»، چې د نوموړو کتابونو په پښتې باندې د«د افغانستان اکاډیمي» لومړی واحد او اړوند انجمن(د تاریخ انجمن او د پښتو د تعمیم او انکشاف آمریت) دوهمي واحد ښودل کیږي.
**<u>کلونه وروسته د تاریخي پېښو په تعقیب او د علمي بهیر په پام کې نیولو سره، د علمي او څېړنیز ماهیت پربنسټ د«د افغانستان اکاډیمي» په مخبنا او تشکیلاتو کې تعدیلات راغلل او د افغانستان د علوماکاډمي د یو ربښتیني خلف په څېر د یوې اړتیا په توګه د «د افغانستان اکاډیمي» ځایناستي شوه.</u>**

**په دې توګه د افغانستان د علومواکاډمي،** د پښتو ټولنې پر بنسټ د تاریخ د انجمن، آریانا دایرةالمعارف او د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز له یو ځای کېدو څخه منځ ته راغله.

**د افغانستان د علومواکاډمي د ایجاد فرمان** د ۱۳۵۷ش.کال د زمري میاشتې په ۱۵مه (۱۹۷۸م.) په دوو برخو کې صادر شو:

۱- طبیعي علوم

۲- بشري علوم

**<u>په اوسنۍ بڼه د افغانستان د علومو اکاډمي د تأسیس په اړه د وزیرانو شورا د دارالانشاء له لورې د تعلیم او تربیې وزارت ته په دې مضمون رسمي لیک استول شوی و:</u>** « د وزیرانو د مجلس تر ۹۸۷فیصلې لاندې په ۱۳مه غونډه، نېټه ۱۵/ ۵/ ۱۳۵۷ش. کې د ښوونې او روزنې د وزارت ۱۵/ ۵/ ۱۳۵۷ش. نېټې د عرضیانې په اساس پرېکړه وشوه چې: په افغانستان کې دعلومو د تکامل په مقصد د علومو د اکاډمي تشکیل چې د یوې لوړې علمي سویې کمیسیون په واسطه ترتیب او تنظیم شوی دی، د وزیرانو د عالي مجلس له خوا د عظمی صدارت په چوکاټ کې تائید او منظور شو».

**د افغانستان د علومواکاډمي د همدغه کال د کب د میاشتې په دوهمه د عظمی صدارت په چوکاټ کې د یو مستقل ارګان په حیث پرانستل شو** او د علومواکاډمي د رئیس تر نظر لاندې یې کار پیل کړ. د علومو اکاډمي لومړنی رئیس له رتبې څخه دباندې بست کې د «پښتو ټولنې»رئیس پوهندوی دکتور ګل محمد نورزی و.

**د یادونې وړ ده** د دې اداري د قانون تر انفاذ دمخه د علومواکاډمي ټولې کړنې د پښتوټولنې، چې د یوې اکاډمیکې ادارې په توګه منل شوې وه،د اساسنامې او لوایحو پر بنسټ تر سره کېدې.

**<u>د علومو اکاډمي رئیسان:</u>**

۱- پوهندوی دکتور ګل محمد نورزی
۲- اکاډمیسین غلام مجدد سلیمان لایق
۳- پوهنمل ګلداد
۴- کاندید اکاډمیسین سرڅېړونکی د علومو دکتور عبدالکبیر رنجبر
۵- اکاډمیسین عبدالاحد عشرتي
۶- سرڅېړونکی محمد محسن فورملي
۷- ملا محمد حسین مستسعد
۸- مولوي خلیل الله فیروزي
۹- څېړنپوه عبدالباري راشد
۱۰- څېړنپوه ثریا پوپل

**<u>د علومواکاډمي مرستیالان</u>**

**I. <u>د بشري علومو د برخې</u>**

۱- کاندید اکاډمیسین محمد ظاهر افق
۲- سرڅېړونکی دوکتور دولت محمد لودین
۳-کاندید اکادمیسین سرڅېړونکی د علومو دکتور عبدالکبیر رنجبر
۴- د سرڅېړونکي مرستیال عبدالباري راشد
۵- اکاډمیسین پوهاند عبدالشکور رشاد

۶- مولوی فریدالدین محمود
۷- سرڅېړونکی دکتورمحمد علم اسحاق زی
۸- څېړنپوه نصرالله سوبمن
۹- څېړنپوه محمد اسلم افضلی

II. **<u>د طبیعي علومو د برخې</u>**

۱- پوهاند دکتور بلبل شاه جلال
۲- کاندید اکاډمیسین پوهنوال عبدالصمد سلیم
۳- سرڅېړونکی دکتور شاه محمد میوندي
۴- مولوی شجاع الدین خدام
۵- څېړنپوه دکتور عبدالخلیل ظریفی
۶- څېړنپوه دکتور نجم الدین ترین

III. **<u>د اسلامي علومو د برخې</u>**

۱- غلام رباني ادیب
۲- مولوي ذکي الله اشرفي
۳- څېړنوال میرمحمد شریف پاکرای
۴- څېړنوال سیف الرحمن سایف ستانکزی

**<u>د علومو اکاډمۍ علمي منشیان</u>**

۱- کاندید اکاډمیسین دکتورعبدالسمیع غفاري
۲- کاندید اکاډمیسین محمد ظاهر افق
۳- کاندید اکاډمیسین محمد حسین هلالي
۴- پوهاند دکتورمحمد نادر هادي
۵- سرمحقق نصرالله ناصر
۶- څېړنپوه دکتور الف محمد شرر
۷- څېړنپوه سید امین مجاهد
۸- څېړنوال دوکتور احمدشاه عمر وردک

**<u>د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د علوموأکاډمي</u>:** د هېواد په سطحه د علمي څېړنو لوړه اداره ده او د یوې مستقلې دولتي ادارې په توګه فعالیت کوي.له منظور شوي تشکیل سره سم د اسلامي ، بشري او طبیعي علومو برخې، علمي شورا، علمي مرکزونه لکه؛ د پښتو څېړنو نړیوال مرکز، د کوشاني څېړنو نړیوال مرکز او د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز د بشري علومو په چوکاټ کې، د دایرةالمعارف مرکز، انستیتوتونه، دیپارټمنتونه، مالي او اداري معاونیت، د دفتر ریاست،د پلان او پالیسۍ ریاست، د فرهنګي او بهرنیو اړیکو ریاست، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست، د اتنوګرافۍ تحقیقاتي موزیم، کتابتونونه، لابراتوارونه، د طبي څېړنیزو تشخیصیه کلینیک، مجلې، جریدې او کودکستان لري.

د یادونې وړ ده، چې د نړۍ د فلسفي ریاضي څېړنو ریاست هم د دې ادارې په څنګ کې فعالیت کوي.

د علومو اکاډمي په سر کې رئیس(له رتبې څخه د باندې بست) واقع دی او د هغو پوهانو له منځه، چې اکاډمیسین، کاندید اکاډمیسین او څېړنپوه رتبه ولري، د علوموأکاډمي د علمي غړو په پټو او مستقیمو رایو انتخاب او د علمي شورا په وړاندیز او د جمهور رئیس په منظورۍ د څلورو کالو

لپاره ټاکل کيږي. د علوموا‌کاډمي مرستيالان،د مرکزونو رئيسان، د انستيتوتونو او ډيپارټمنټونو آمرين پرته د علوموا‌کاډمي له علمي منشي(مافوق رتبه)او نورو علمي منشيانو څخه، انتخابي دي.
د علوموا‌کاډمي علمي غړي په خپلو فعاليتونو کې علمي- څېړنيز ميتود، د اسلام د سپيڅلي دين احکام او معتقدات او د اساسي قانون احکام د خپل عمل ملاک کړي او د دې موخو د تحقق لپاره د علوموا‌کاډمي له قانون څخه په پيروۍ فعاليت کوي.

**موخې:**

- د هېواد د فرهنګي بداينې او د ملي اقتصاد د ودې په منظور د اسلامي، بشري او طبيعي – تخنيکي علومو په برخه کې د علمي څېړنو تر سره کول او انسجام او پورتنۍ څېړنې ، چې د لوړو زده کړو د مؤسسو او نورو علمي او څېړنيزو مؤسسو له خوا تر سره کيږي، د هغو انسجام.
- د طبيعي سرچينو او زېرمو د مطالعاتو، څېړنو او ارزونو او له هغو څخه د اغېزناکې ګټې اخيستنې د لارو چارو انسجام.
- د ملي اقتصاد د ودې په چار کې د ساينس او تکنالوژۍ د نوو برياوو د کارولو د مناسبو لارو بررسي کول.
- د ملي اقتصاد، فرهنګي او ټولنيزې ودې د جاري او لرليدو پلانونو په طرحه، تدوين او ارزونه کې همکاري.
- په هېواد کې له نورو ادارو او مؤسسو سره د علمي او څېړنيزو اړيکو ټينګول.
- په هېواد کې د علم او پوهې د سطحې کمي او کيفي وده.
- د علوموا‌کاډمي په علمي څېړنو کې د غير اسلامي فرهنګ د يرغل مخنيوی.

## د افغانستان د علومو اکاډمي تشکيلاتي جوړښت

**<u>په ۱۳۵۷ش.کال د يوې مستقلې ادارې په توګه د علومو اکاډمۍ لومړنۍ تشکيلاتي جوړښت:</u>**

**۱- عمومي مجلس**
**۲- عمومي رياست**
**۳- مرستيال**
**۴- سکرتريت**

له پورتني تشکيل سره سم اکاډمي دوه برخې؛ علمي او اداري درلودې:

I. **د علوموا‌کاډمي علمي برخې:**

**۱- د ژبو او ادبياتو انستيتوت:**

**الف** - پښتو ټولنه، چې وروسته د ژبو اوادبياتو په مرکز بدله شوه:

- د ادب او فولکلور عمومي مديريت
- د ژبپوهنې عمومي مديريت
- د ټولنيزو علومو عمومي مديريت

- د کابل مجلې عمومي مدیریت
- د زیري جریدې عمومي مدیریت

**ب**- د دري ژبې او ادبیاتو عمومي مدیریت
**ج**- د ورونو قومونو د ژبو او ادبیاتو عمومي مدیریت

**۲- د ټولنیزو علومو انستیتوت:**

**الف**- د افغانستان مجلې عمومي مدیریت
**ب**- د آریانا مجلې عمومي مدیریت
**ج**- د فلسفې عمومي مدیریت
**د**- د اقتصاد عمومي مدیریت
**هـ** - د تاریخ او اتنوګرافی عمومی مدیریت
**و**- د ارکیالوژي عمومي مدیریت

**۳- د پښتو څیړنو نړیوال مرکز:**

الف- د پښتو مجلې عمومي مدیریت
ب- د تألیف او ترجمې عمومي مدیریت
ج- د ریسرچ عمومي مدیریت

**۴- د طبیعی علومو انستیتوت:**

**الف**- د نباتاتو برخه، چې لاندې څانګې یې درلودې:

- د نباتاتو موزیم
- تحقیقاتي بڼ

**ب**- د زولوژي عمومي مدیریت
**ج**- د جیولوجي او کیمیا عمومي مدیریت
**د**- د سیسمولوژي عمومي مدیریت
**هـ** - دکمپیوټر مرکز

**۵- د دایرةالمعارف عمومي مدیریت**

- د قاموس لیکنې برخه:

**الف**- پښتو په پښتو
**ب**- پښتو په نورو ژبو او نورې ژبې په پښتو

**II. اداري او علمي کومکي برخې:**

۱- د کادرونو د روزنې عمومي مدیریت
۲- د خپرونو او مطبعې عمومي مدیریت
۳- د مرکزي کتابتون عمومي مدیریت
۴- د مرکزي آرشیف عمومي مدیریت

**اداري ریاست:**

**۱- د مأمورينومديريت**

- د اداري آرشيف مديريت
- د استخدام مديريت
- د سوانح مديريت

**۲- <u>د خدماتو مديريت</u>**

- د ترانسپورت مديريت
- دتحويلخانې مديريت
- د تهيې او تدارکاتو مديريت

**۳- <u>د جنسي محاسبې مديريت</u>**

**۴- <u>د نقدي محاسبې مديريت</u>**

- د معاشونو مديريت
- د دفترداریٔ مديريت
- د حواله جاتو مديريت
- تحصيلي مديريت

**۵- <u>د کنترول مديريت</u>**

**<u>د افغانستان د علومواکاډمی قانون د ۱۳۶۰ش.کال د سلواغې مياشتې په ۳۰مه(۱۹۸۱م.)په ځلورو فصلونو او ۳۴مادو</u>** کې په «۲۲»گڼه«پرله پسې۵۰۲گڼه»رسمي جريده کې تر خپرېدو وروسته نافذ شو، چې د مقررو او لوايحو په طرح او تدوين سره، د کار د بهبود او د هغې د علمي مقام د لوړاوي لپاره د علومواکاډمي او کابل پوهنتون ترمنځ د علمي رتبو په توأميت، په ۱۳۶۰ش.کال تطبيق او عملي شو او د سرڅېړونکي رتبه په کې د پوهنتون د پوهاندیٔ د مقام همرديفه وپيژندل شوه. دا تفاهم د افغانستان د علومواکاډمي او د هېواد د لوړو زده کړو د مؤسسو ترمنځ له هر اړخيزو خبرو اترو وروسته ترلاسه شو او په هغه کې د پوهنتون شپږو علمي رتبو«پوهيالی، پوهنيار، پوهنمل، پوهندوی، پوهنوال او پوهاند» د علومواکاډمي له څلورو رتبو«د څېړونکي مرستيال، څېړونکی، د سرڅېړونکي مرستيال، سر څېړونکی»سره معادلت حاصل کړ او دواړو مؤسسو ومانه.

د دې غوښتنې د عملي کېدو په موخه يوه مقرره نافذه او په ۱۳۶۶ش.(۱۹۸۷م.)کال په ۶۵۶گڼه رسمي جريده کې خپره شوه.

د ذکر شوي قانون په نافذېدو او خپرېدو سره د علومواکاډمي د ۱۳۶۰ش.کال د غبرگولي د مياشتې قانون ملغی اعلان شو.

**<u>په ۱۳۶۱ش.کال د لرغونپيژندنې انستيتوت او د کوشاني څېړنو نړيوال مرکز،</u>** چې تر دغه مهاله د اطلاعاتو او کلتور وزارت اړوند و، هم په علومو اکاډمي کې مدغم شول، چې په تشکيل کې کله يواځې د لرغونپيژندنې د مرکز په نامه او کله هم د لرغونپيژندنې او د کوشاني څېړنو مرکز په نامه ثبت شوي دي.

په لومړي سر کې د علومواکاډمي تشکيلاتي جوړښت داسې و، چې يوازې د پښتو څېړنو نړيوال مرکز چې د تأسيس له پيله(۱۳۵۴ش.)مرکز نومول شوی و، د مرکز په توگه او نورې درېې برخې د انستيتوت په توگه ثبت او فعاليت يې کاوه، خو د علومواکاډمي د قانون تر تصويبېدو

وروسته د طبيعي علومو، بشري علومو او ژبو او ادبياتو انستيتوتونه په مرکزونو تبديل شول؛ لکه چې د طبيعي علومو انستيتوت په ۱۳۶۰ش.کال، د ژبو او ادبياتو انستيتوت له ۱۳۶۰ش.کال وروسته او د ټولنيزو علومو انستيتوت په ۱۳۶۱ش.کال. :

**۱- د پښتو څېړنو نړيوال مرکز**

**۲- د طبيعي علومو مرکز**

**۳- د ژبو او ادبياتو مرکز**

**۴- د ټولنيزو علومومرکز**

وروسته د دې علمي او اکاډميکي مؤسسې په تشکيل کې د اړتيا پر بنسټ بدلون راغی او له ۱۳۶۵ش.کال وروسته د طبيعي او بشري علومو مرکزونو معاونيتونو ته ارتقاء وکړه:

**۱- د بشري علومو معاونيت**

**۲- د طبيعي علومو معاونيت**

په داسې حال کې، چې علومواکاډمي د تأسيس پرمهال يواځې يو مرستيال درلود.

**<u>په ۱۳۶۷ش.کال د طبيعي علومو معاونيت</u>** په څلورو مرکزونو کې علمي - څېړنيز فعاليت کاوه:

- د کيميا، بيولوژی او زراعت مرکز
- د رياضی، فزيک او تخنيک مرکز
- د ځمکپېژندنې مرکز
- د طبي علومو مرکز

**د شمسي کال د ۶۰ مې لسيزې په وروستيو کې** د طبيعي علومو تشکيل پراخه شو؛ لکه چې د فضايي مطالعاتو مرکز، د سيسمولوژۍ او د زلزلې سنجولو د دستګاه د چمتوکولو او نصب انستيتوت، د اوبو د ستونزو انستيتوت،د لمر له انرژۍ څخه د استفادې او د لمر او باد له انرژۍ څخه د استفادې د لارو چارو ډيپارټمنټ، د جنيټکس، بيوتکنولوژي او جن انجينيرنګ او خاورې پېژندنې ډيپارټمنټونه او همداسې نور انستيتوتونه او ډيپارټمنټونه د علمي اکتشافاتو په موخه د طبيعي علومو په برخه کې په ځانګړې توګه په زراعت، فزيک، رياضي، کيميا، بيولوژي، تخنيک، ځمکپېژندنې، طب او فارمسي کې ايجاد او په فعاليت يې پيل وکړ. د طبيعي علومو د معاونيت په چوکاټ کې طبيعت مجلې د دغه برخې د خپرنيز ارګان په توګه په ۱۳۶۸ش.کال په خپلو خپرونو پيل وکړ.

**<u>د زراعتي څېړنو انستيتوت</u>** له اداري پلوه د کرنې او مالدارۍ وزارت پورې اړوند دی، خو علمي رهبري يې د افغانستان د علومواکاډمي په غاړه ده. علمي رتبې د ۱۵/ ۶/ ۱۳۶۶نېټې د مقررې تر توشېح او په ۶۴۶ګڼه رسمي جريده کې تر خپرېدو وروسته د څېړنيزو کارونو، د کار د مودې او د تحصيل د درجې په پام کې نيولو سره د دې انستيتوت غړو ته په ۱۳۶۷ش.کال ورکړل شوې. تر هغې وروسته د نومورې انستيتوت د پوهانو علمي ترفيعات د علومواکاډمي له قانون او د علمي کادر له مقررې سره سم اجراء کيږي. په دې انستيتوت کې جديد التقرر غړي هم د علومواکاډمي د قانون او مقررې پر بنسټ په علمي کادر کې شامليږي، خو د علمي کادر امتيازات، معاش او د هغوی نورې اړتياوې د کرنې او مالدارۍ وزارت له خوا تأمينيږي.

**<u>د بشري علومو برخه</u>** هم ورو ورو پراخه شوه او د انستيتوتونو شمېر يې زيات شو. د دري ژبې او ادبياتو ډيپارټمنټ، انستيتوت ته لوړ شو او د خراسان مجلې مديريت په ۱۳۵۹ش.کال د ژبو او ادبياتو په چوکات کې تأسيس او په خپلو خپرونو يې پيل وکړ. د لرغونو ژبو ډيپارټمنټ په ۱۳۶۷ش.کال ايجاد شو. د ازبکي او ترکمني ژبو ډيپارټمنټ د ورونو قومونو له انستيتوت څخه جلا او د مستقل انستيوت په توګه په دوه جلا ډيپارټمنټونو په تشکيل منظور شو. د ورونو قومونو په انستيتوت کې د دې ژبو لپاره بست او د څېړنې زمينه برابره شوه:

- بلوچي ژبه او ادبيات، د فعاليت پيل يې۱۳۵۷ش.کال
- ترکمني ژبه او ادبيات، د فعاليت پيل يې ۱۳۵۸ش.کال
- ازبکي ژبه او ادبيات، د فعاليت پيل يې ۱۳۵۸ش.کال
- په پاميري ژبو باندې څېړني، د فعاليت پيل يې۱۳۶۳ش.کال
- پشه يي ژبه او ادبيات، د فعاليت پيل يې۱۳۶۳ش.کال
- نورستاني ژبه او ادبيات، د فعاليت پيل يې۱۳۶۳ش.کال
- شغني ژبه او ادبيات، د فعالت پيل يې ۱۳۶۹ش.کال
- اورمړي ژبه او ادبيات، د فعاليت پيل يې۱۳۷۰ش.کال

**د ټولنيزو علومو انستيتوت** په ۱۳۶۱ش.کال عملاً د ټولنيزو علومو مرکز ته لوړ شو او همدارنګه د انستيتوتونو شمېر يې هم زيات شو.
**جلا کميسيونونو** د پشه يي او نورستاني ژبو الفبا ترتيب کړه او په۱۳۶۷ش. او ۱۳۶۸ش.کلونو کې چاپ او خپره شوه.
**په ۱۳۷۴ش.(۱۹۹۵م.)کال د اسلامي علومو څېړنيزه برخه** د علومواکاډمي په تشکيل کې د يو معاونيت په سطحه زياته شوه، چې په لومړي سر کې يې يو مرکز درلود، خو نن ورځ درې مرکزونه لري. په ۱۳۷۹ش.کال «تبيان»مجله د اسلامي علومو د معاونيت د خپرنيز ارګان په توګه په خپرونو پيل وکړ.
**د ژورناليزم او حقوقو انستيتوت** په ۱۳۸۱ش.کال دوه جلا جلا انستيتوتونه شول.
**په۱۳۸۱ش.کال د علومواکاډمي په وړانديز** او د جمهور رئيس په منظورئ د ژبو او ادبياتود مرکز د ورونو قومونوپه انستيتوت کې د پاميري ژبو د ديپارټمنټ تشکيل منظور شو، چې يو کال پس د تشکيلاتي کميسيون له خوا د علومو اکاډمي د تشکيل د تنقيصاتو په لړ کې دو باره له منځه ولاړ، خو د شغني ژبې چوکۍ لا تر اوسه شته دی.
**په ۱۳۸۱ش.کال د دولت له انکشافي بودجې څخه د شاه بوبوجان د تاريخي قصر**(د علومواکاډمي مرکزي ودانۍ) د بيارغوني او د اتنوګرافی د څېړنيز موزيم د ايجاد لپاره په ۱۵/ ۳/ ۱۳۸۱نېټه (۴۵)ګڼه فرمان د افغانستان د اسلامي انتقالي دولت د رئيس له خوا ورکړل شو. دا موزيم په ۱۳۹۰ش.کال رسماً د « د اتنوګرافی علمي- څېړنيز موزيم»په نامه پرانستل شو.
د دې موزيم آثار د پښتون، تاجيک، هزاره، ازبک، ترکمن، نورستاني، پشه يي او...پر اتنيکونو باندې مشتمل دي، تر اوسه ۸۹۱قلمه آثار، چې نايابه ګاڼي هم په کې شاملې دي، دې موزيم ته تدارک شوي دي. د موزيم د بډايه کولو کار د اړوندې برخې د پوهانو او د دې ادارې د مسئولينو له خوا روان دی، خو څېړونکي، د پوهنتونونو محصلين، د ښوونځيو زده کوونکي او نور علاقه مندان کولای شي موزيم ووينې.
د هيواد نامتو مجسمه جوړوونکي او انځورګر پوهاند امان الله حيدرزاد خپل سلګونه آثار په ۳/ ۱۰/ ۱۳۹۳ نېټه د علومواکاډمي د پوهانو، فرهنګيانو، استادانو او د خپلو دوستانو په محضر کې د علومواکاډمي د اتنوګرافي څېړنيز موزيم ته ډالۍ کړل.
**د دايرة المعارف مرکز** له څو لسيزو ځنډ وروسته د افغانستان د اسلامي انتقالي دولت د رئيس جلالتمآب حامد کرزي د ۱۴/ ۵/ ۱۳۸۱نېټې د ۱۱۶ګڼه فرمان پربنسټ مجدداً فعاليت پيل کړ. د دايرةالمعارف مرکز چې مخکې د بشري علومو د برخې پورې تړلی و، له ۱۳۹۱ش.کال څخه را پدې خوا په علومواکاډمي کې د يو مستقل مرکز په توګه فعاليت کوي. دې مرکز له فرمان سره سم،لومړی د «دايرة المعارف د ارټيکلونو د تثبيت او ارزوني کميسيون»په نامه د علومواکاډمي د پوهانو ، د کابل پوهنتون، طبي پوهنتون او پوليتخنيک پوهنتون د استادانو او د نورو ادارو له

کارکوونکوڅخه جوړ یوباصلاحیته علمي کمیسیون په تشکیل کړ او بیا یې د آریانا دایرة المعارف د دوهم دور د تدوین پلان، هممهاله په دوو ژبو؛پښتو اودري په جلاجلا ټوکونو کې په۱۳۸۵ش.کال تر کار لاندې ونیو. د آریانا دایرة المعارف د دوهم دور لومړی ټوک په ۱۳۸۶ش.کال، دوهم ټوک په ۱۳۸۷ش.کال، دریم ټوک په ۱۳۸۹ش.کال، څلورم ټوک په ۱۳۹۰ش.کال او پنځم ټوک په ۱۳۹۲ش.کال په پښتو او دري ژبو چاپ شو. د آریانا دایرة المعارف دوهم دور په شپږو ټوکونو کې بشپړیږي.

**په۱۳۸۱ش.(۲۰۰۲م.)کال** د افغانستان د اسلامي انتقالي دولت د رئیس د۱۴/ ۵/ ۱۳۸۱نېټې د۱۱۸ګڼه فرمان په واسطه د لرغونپېژندنې انستیتوت د علوماکاډمي له چوکاټه جلا او له اداري پلوه دوباره د اطلاعاتو او فرهنګ په وزارت پورې وتړل شو، خو علمي رهبري یې د افغانستان د علومو اکاډمي پر غاړه وه.

د۱۳۹۰ش.کال په وري میاشت کې د لرغونپېژندنې ریاست یو ځل بیا په علوماکاډمي پورې وتړل شو.

**د یادونې وړ ده، چې په ۱۳۸۴ش.کال** د علوماکاډمي یو شمېر چوکۍ له تشکیل څخه حذف شوې، په داسې حال کې، چې د علوماکاډمي د تأسیس پرمهال په پام کې وه تر ۱۳۷۰ش.کال پورې د دې اداري د علمي غړو شمېر ۶۰۰تنو ته ورسیږي.

**اوس د <u>علوماکاډمي ریاست</u>** له علمي غړو او د ملکي خدمتونو له کارکوونکو(حمایوي غړو) څخه تشکیل دی، چې د عمومي تشکیل له ۴۹۸بستونو څخه ۲۹۱بستونه د معاونیتونو، مرکزي ریاستونو، علمي مرکزونو، انستیتوتونو او ډیپارټمنټونو علمي غړي او د مجلو مدیران او مهتممین دي، چې د نافذو قوانینو، مقرراتو اولوایحو او د موجودو امکاناتو په پام کې نیولو سره، د علمي مرکزونو له طرحه شوو پلانونو سره سم په اړونده برخه کې <u>د تحصیلي او تخصصي رشتې مطابق په انفرادي بڼه د علمي- څېړنیزو پروژو</u> په تر سره کولو بوخت دي، چې <u>۱۷سلنه</u> یې خوینده تشکیلوي.

په دې اداره کې د ملکي خدمتونو د کارکوونکو او د خدماتي پرسونل شمېر **<u>۲۰۷</u>**بستونو ته رسیږي، چې د اداري اصلاحاتو د پروسې له لارې جذب شوي او په اداري خدمتونو بوخت دي او له دې جملې څخه **<u>۱۱</u>**سلنه مأمورین او**<u>۱۰</u>**سلنه خدماتي پرسونل خوینده تشکیلوي.

**د افغانستان د علوماکاډمي علمي غړي** په دریو برخو کې په علمي څېړنو بوخت دي:

۱ .بشري علوم.
۲ .طبیعي. علوم
۳ .اسلامي علوم.

د هرې برخې په سر کې د علوماکاډمي یو مرستیال واقع دی او هره برخه په علمي مرکزونو، انستیتوتونو او ډیپارټمنټونو ویشل شوې ده.

**د علوماکاډمي علمي غړي په درې ډوله دي:**

۱ .علمي غړي.
۲ .افتخاري غړي.
۳ .اکاډمیسینان اوکاندید اکاډمیسینان.

چې د علوماکاډمي د قانون، مقرراتو او لوایحو په پام کې نیولو سره جذب او ټاکل کیږي.

## <u>په ۱۳۹۳ش.کال کې د علوماکاډمي تشکیلاتي جوړښت</u>

۱. د علوماکاډمي رئیس ، له رتبې څخه خارج بست

۲. د علومواکاډمي علمي منشي ، ما فوق رتبه بست
۳. د بشري علومو د برخې معاونیت ، ما فوق رتبه بست
۴. د طبیعي- تخنیکي علومو د برخې معاونیت ، ما فوق رتبه بست
۵. د اسلامي علومو د برخې معاونیت ، ما فوق رتبه بست
۶. مالي او اداري معاونیت ، فوق رتبه بست
۷. د مشاوریت دوه بستونه، فوق رتبه بستونه
۸. د دایرةالمعارف د مرکز ریاست ، اول بست
۹. مرکزي ریاستونه
۱۰. د داخلي تفتیش آمریت

- د نړۍ د فلسفي ریاضي څېړنو د مرکز ریاست ، مافوق بست(د علومواکاډمي ترځنګ)

## علمي برخه

**دعلومو اکاډمي علمي منشي**

- دوه علمي غړي

**I. د بشري علومو د برخې معاونیت:**

- **علمي منشي**
  - د آریانا مجلې مدیریت
  - د آریانا مجلې مهتمم
  - د افغانستان مجلې مدیریت
  - د افغانستان مجلې مهتمم

**الف- د ژبو او ادبیاتو د مرکز ریاست:**

- علمي منشي
- **د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت**
  - علمي منشي
  - د ادبیاتو او متنپوهنې دیپارټمنټ
    - څلور علمي غړي
  - د فولکلور او شفاهي ادبیاتو دیپارټمنټ
    - څلور علمي غړي
  - د ژبپوهنې دیپارټمنټ
  - دکابل مجلې مدیریت
  - د کابل مجلې مهتمم
  - د زیري جریدې مدیریت
  - د زیري جریدې مهتمم

- **د دري ژبې او ادبیاتو انستیتوت**
  - علمي منشي
  - د ادبیاتو او متنپوهنې دیپارټمنټ
    - دري علمي غړي

- د فلکلور ډیپارټمنټ
- دوه علمي غړي
- د ژبپوهنې ډیپارټمنټ
- د کره کتنې او ادبي تیورۍ ډیپارټمنټ
- د خراسان مجلې مدیریت
- د خراسان مجلې مهتمم
- **د لرغونو ژبو ډیپارټمنټ**

- **د ورونو قومونو د ژبو او ادبیاتوانستیتوت**
- علمي منشي

- **د ترکمني او ازبکي ژبو انستیتوت**
- د ترکمني ژبې ډیپارټمنټ
- د ازبکي ژبې ډیپارټمنټ
- یو علمي غړی
- د پامیري ژبو ډیپارټمنټ

**ب- د ټولنیزوعلومو د مرکز ریاست:**

- **علمي منشي**

**د تاریخ او اتنوګرافۍ انستیتوت**

- علمي منشي
- د افغانستان د پخواني تاریخ ډیپارټمنټ
- دوه علمي غړي
- د افغانستان د معاصرتاریخ ډیپارټمنټ
- دوه علمي غړي
- د اتنوګرافۍ ډیپارټمنټ
- یو علمي غړی

- **د اقتصاد انستیتوت**
- علمي منشي
- د تصدي اقتصاد ډیپارټمنټ
- دوه علمي غړي
- د ملي اقتصاد ډیپارټمنټ
- د احصائیې ډیپارټمنټ
- دوه علمي غړي

- **د اروا پوهنې او روزنیزو علوموانستیتوت**
- علمي منشي
- د ښوونې او روزنې ډیپارټمنټ
- د اروا پوهنې ډیپارټمنټ

- يو علمي غړی

- **د فلسفې او تولنپوهنې انستیتوت**
  - علمي منشي
  - د فلسفې ډيپارټمنټ
  - يو علمي غړی
  - د ټولنپوهنې ډيپارټمنټ

- **د حقوقو او سياسي علومو انستيتوت**
  - علمي منشي
  - يو علمي غړی
  - د نړيوالو اړيکو ډيپارټمنټ
  - د عامه حقوقو او سياسي علومو ډيپارټمنټ
  - د جزا ډيپارټمنټ
  - خصوصي ډيپارټمنټ

- **د ژورناليزم انستيتوت**
  - علمي منشي
  - د تحقيق او مطالعاتوډيپارټمنټ
  - ډله ييزو رسنيو ډيپارټمنټ
  - يو علمي غړی

**ج- د لرغونپېژندنې د څېړنو د مرکز رياست:**

- **علمي منشي**
- **د لرغونپېژندنې انستيتوت**
  - علمي منشي
  - د ماقبل التاريخ ډيپارټمنټ
  - د يونانو باختر ډيپارټمنټ
  - د سکه پېژندنې او تېکر پېژندنې ډيپارټمنټ
  - د اسلامي دورې ډيپارټمنټ
  - د مهندسی ډيپارټمنټ
  - د (د افغانستان لرغونپېژندنه) مجلې مديريت
  - د (د افغانستان لرغونپېژندنه) مجلې مهتمم

**د- د کوشاني څېړنو د نړيوال مرکز رياست:**

- **علمي منشي**
- **د کوشاني څېړنوانستيتوت**
  - علمي منشي
  - د کوشاني دورې د آثارو او اسنادو ډيپارټمنټ
  - د مديتراني حوزې ډيپارټمنت
  - د آثار د ترميم ډيپارټمنټ

- يو علمي غړی
  - د ساحوي څېړنو ډيپارټمنټ
    - دکوشاني مجلې مديريت
    - دکوشاني مجلې مهتمم

**د علمي ـ څېړنيز اتنوګرافي موزيم آمريت** ، چې د موزيم آمر ، اداري پرسونل ، عکاس، لار ښودونکي او يو علمي غړی په کې شامل دي.

**هـ د پښتو څېړنو د نړيوال مرکز رياست:**

- **علمي منشي**
  - د پښتو څېړنو **انستيتوت**
    - دوه علمي غړي
  - **د خوشحالڅېړنی انستيتوت**
    - دوه علمي غړي
  - د پښتتو قبايلو **انستيتوت**
    - دوه علمي غړي
    - د تأليف اوترجمې ډيپارټمنټ
      - يو علمي غړی
      - د پښتو مجلې مديريت
      - دپښتو مجلې مهتمم

**و ـ د سيمه ييزو مطالعاتو د مرکز رياست:**

- **علمي منشي**
- کارپوه
- کارپوه
- کارپوه
- يو علمي غړی
  - **د هند او پاکستان د مطالعاتو انستيتوت**
    - د هند ډيپارټمنټ
    - د پاکستان ډيپارټمنټ
  - **د ايران اوترکيې انستيتوت**
    - د ايران ډيپارټمنټ
    - د ترکيې ډيپارټمنټ
  - **د عربي هېوادونو انستيتوت**
    - د سعودي عربستان ډيپارټمنټ
  - **د منځنۍ آسيا انستيتوت**

- د تاجکستان ډيپارټمنټ
- د ترکمنستان ډيپارټمنټ
- د قزاقستان ډيپارټمنټ

- **د روسيي اوقفقاز انستيتوت**
- د روسيي ډيپارټمنټ
- د قفقاز ډيپارټمنټ
- د چين ډيپارټمنټ
- د محمود طرزي د فکري بنسټ آمريت
- يو علمي غړی

- د بين الملل د مطالعاتو **انستيتوت**
- د(سيمه ييزمطالعات) مجلې مديريت
- د(سيمه ييزمطالعات) مجلې مهتمم

**II. د طبيعي- تخنيکي علومو د برخې معاونيت:**

- **علمي منشي**
- د طبيعت مجلې مديريت
- د طبيعت مجلې مهتمم

**الف- د کيميا، بيولوژي او زراعت مرکز رياست:**

- علمي منشي
- **د کيميا انستيتوت**
- علمي منشي
- د عضوي کيميا ډيپارټمنټ
- دغيرعضوي کيميا ډيپارټمنټ
- د کلوئيدي فزيکي کيميا ډيپارټمنټ
- د بيوشيمي ډيپارټمنټ

- **د بيولوژي انستيتوت**
- علمي منشي
- د نبات پېژندني ډيپارټمنټ
- د جنټيک ډيپارټمنټ

- **د زراعت انستيتوت**
- علمي منشي
- د اګرونومي ډيپارټمنټ
- د خاورې پېژندني ډيپارټمنټ
- د نباتاتو د اصلاح ډيپارټمنټ
- د سبزيجاتو او ميوه جاتو ډيپارټمنټ
- د کرنيزماشين آلاتو ډيپارټمنټ

**ب- د ځمکپېژندنې د علومو د مرکز رياست:**

- **علمي منشي**
- **د جيولوجي انستيتوت**
- علمي منشي

- **د هايدروميتئورولوژي انستيتوت**
- علمي منشي
- د طبيعي جغرافيې ډيپارټمنټ
- يو علمي غړى

- **د جيوفزيک انستيتوت**
- د کاني موادو ډيپارټمنټ
- د نفت وګاز ډيپارټمنټ

**ج- د رياضي، فزيک او تخنيک مرکز رياست:**

- **علمي منشي**
- **د رياضي او فزيک انستيتوت**
- علمي منشي
- د رياضي ډيپارټمنټ
- د فزيک ډيپارټمنټ

- **د انرژي انستيتوت**
- علمي منشي
- د برېښنايي سټېشنونو ډيپارټمنټ
- د برېښنايي شبکو ډيپارټمنټ

- **ساختماني انستيتوت**
- د معدني او صنعتي ودانيو ډيپارټمنټ

- **د تخنيک او تکنولوژۍ انستيتوت**
- علمي منشي
- د فلزاتو د تکنولوژۍ ډيپارټمنټ
- د ماشينرۍ او ترانسپورټ ډيپارټمنټ

- **د معلوماتي تکنولوژۍ انستيتوت**
- علمي منشي
- د معلوماتي تکنالوژۍ ديپارتمنت
- يو علمي غړى
- د راډيو او مخابراتو ډيپارټمنټ
- يو علمي غړى
- د انټرنټ د شبکو ډيپارټمنټ
- دوه علمي غړي

**د- د طبي علومو د مرکز رياست:**

- **علمي منشي**
- **د معالجوي طب انستيتوت**
  - علمي منشي
  - د عمومي جراحي ډيپارټمنټ
  - د داخلي ډيپارټمنټ

- **د فارمسي انستيتوت**
  - علمي منشي
- د طب د تشخيصيه او تحقيقاتي کلنيک آمريت
  - علمي مرستيال
  - سونولوجست

- **د ساينس او تکنولوژۍ د ملي کميسيون سکرتريت**
  - د ساينس او تکنولوژۍ د اخبار مديريت

**III. د اسلامي علومو د برخې معاونيت:**

- **علمي منشي**
- د تبيان مجلې مديريت
- د تبيان مجلې مهتمم

**الف- د تفسير او حديث مرکز رياست:**

- علمي منشي
- يو علمي غړی
- **د تفسير انستيتوت**
  - علمي منشي
  - د تفسير ډيپارټمنټ
  - يو علمي غړی

- **د حديث انستيتوت**
  - علمي منشي
  - د حديث ډيپارټمنټ
  - يو علمي غړی

ب- **د فقهي او قانون مرکز رياست:**

- علمي منشي
- **د فقهي انستيتوت**
  - علمي منشي
  - د فقهي ډيپارټمنټ
  - د فقهي د اصولو ډيپارټمنټ

- **د قانون انستيتوت**

- علمي منشي
  - د قانون ډيپارټمنټ

**ج- د عقيدی او ثقافت مرکز رياست:**

- علمي منشي
  - **د عقيدې انستيتوت**
- علمي منشي
  - د عقيدې ډيپارټمنټ
    - دوه علمي غړي
  - د تصوف ډيپارټمنټ
    - يو علمي غړی

- **د ثقافت انستيتوت**
- علمي منشي
  - دوه علمي غړي
  - د ښځې او کورنۍ ډيپارټمنټ

**د دايرة المعارف مرکز رياست:**

- علمي منشي
  - د دايرة المعارف انستيتوت
    - اووه علمي غړي

**د نړۍ د فلسفي رياضي مرکز رياست:**

- علمي مرستيال
- علمي منشي
- د اقتصادي چارو علمي کارپوه
- د فلسفي ديني علومو علمي کارپوه
- د رياضياتو د علم علمي کارپوه
- د بين الدول حقوقو علمي کارپوه

**مرکزی رياستونه**

- د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست
  - د ويب سايټ عمومي مديريت
- د فرهنګي او بهرنيو اړيکو رياست
- د پلان او پاليسۍ رياست
- د دفتر رياست

## اداري برخه

**مالي او اداري معاونيت**

- **اداري رياست**
- **مالي او حسابي رياست**

- د بشري منابع آمریت
- د جندر د واحد آمریت

دا ټول ریاستونه، آمریتونه او عمومي مدیریتونه په مدیریتونو او بېلابېلو څانګو ویشل شوي دي، چې د دندو د لایحې پر بنسټ د اداري اصلاحاتو د پروسې له لارې توظیف شوي دي.

**<u>د علومواکاډمۍ مرکزي کتابتون:</u>** د انجمنونو او هغو مؤسسو د کتابتونونو له ادغام څخه چې علوماکاډمي له هغو څخه ایجاد شوې ده، تشکیل شوی دی او درې برخې لري:

۱. د توزیع برخه، چې په ملي ژبو او د یونسکو په ژبو ۱۸۰۸۱عنوانه کتابونه په ۲۴۰۴۵ټوکونو کې لري.

۲.د ریفرنس برخه، چې ۸۷۴۳عنوانه کتابونه په ۱۰۴۱۴ټوکونو کې او ۳۷۵قلمي نسخې لري.

۳. د مجلو او جریدو برخه ده، چې په دې برخه کې استفاده کوونکي د۵۹۴عنوانه جریدو او ورځپاڼو کلکسیونونه او ۱۲۰۲ عنوانه مجلې په واک کې لري.

**<u>د دایرة المعارف د مرکز کتابتون:</u>** د علومو د بېلابېلو څانګو۱۰۹۷ټوکه کتابونه لري.

**<u>د سیمه ییزو مطالعاتو د مرکز کتابتون:</u>** د علومو د بېلابېلو څانګو ۱۰۸۹ټوکه کتابونه لري.

**<u>په ۱۳۹۳ش.کال کې اهداءشوي کتابونه او کتابتونونه :</u>**

- ۵۷۴۰ټوکه کتابونه د بهرنیو چارو د وزارت له خوا؛
- ۱۴۲ټوکه کتابونه د ښځو چارو وزارت له خوا؛
- د ارواښاد پوهاند محمداکبر پوپل کتابتون، چې په ملي او انګلیسي ژبو د زراعت د برخې اړوند ۶۸۴ټوکه کتابونه په کې شامل دي، د هغه د کورنۍ له خوا د علوماکاډمي کتابتون ته اهداء شوی دی.
- د هېواد نامتو عالم حبیب الله رفیع خپل شخصي کتابتون، چې سلګونه ټوکه کتابونه او د جریدو او مجلو کلکسیونونه په کې شامل دي علوماکاډمي ته اهداء کړی دی او دغه کتابونه، جریدې او مجلې په دوو لاندنیو برخو کې ټولو علاقمندانو ته د استفادې لپاره په واک کې ورکړل شوي دي:
  - رفیع کتابتون
  - د رفیع د ژورنالیزم نندارتون

**<u>د علومو اکاډمۍ خپرونې:</u>** اوسمهال ۱۳موقوتي خپرونې، چې ۱۰مجلې، دوه جریدې او د ساینس او تکنولوژۍ یو اخبار په کې شامل دي په پښتو، دري او د یونسکو په ژبو د دې اداري د اطلاعاتو او عامه اړیکو د ریاست له لارې خپرېږي. سربېره پر دې د مالي امکاناتو په پام کې نیولو سره په کال کې د پوهانو لسګونه مستقل کتابونه هم له همدې لارې چاپ او خپرېږي.

د وقفواوخپرنیزو پړاوونو په پام کې نیولو سره **د علومواکاډمي موقوتې خپرونې:**

| ګڼه | د خپرونې نوم | په هجري لمریز یې د تأسیس کال د خپرنیزو وقفو او د بیا پیل په ذکر سره | خپرنیزه ژبه | د خپرېدو موده | خپروونکی |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | کابل مجله | ▪ ۱۳۱۰ ـ۱۳۷۱<br>▪ ۱۳۷۶یوه ګڼه(۱ـ۳)<br>▪ د۱۳۸۰کال پای | لومړی دری، اوس پښتو | میاشتنۍ | د ژبو او دبیاتو مرکز، د پښتو ژبې او ادب انستیتوت |
| ۲ | آریانا مجله | ▪ ۱۳۲۱ـ ۱۳۷۱<br>▪ ۱۳۷۵ یوه ګڼه<br>▪ ۱۳۷۸ یوه ګڼه | پښتو او دری | درې میاشتنۍ | د ټولنیزو علومو |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | ۱۳۸۰ یوه ګڼه<br>۱۳۸۱ | | | مرکز |
| ۳ | افغانستان مجله | ۱۳۲۵ش.(۱۹۴۶م.)- ۱۳۷۱<br>۱۳۸۲ش.(۲۰۰۳م.) | انګلیسي | درې میاشتنی | د پوهنتون د علومو مرکز |
| ۴ | تحقیقات کوشاني مجله | ۱۳۵۷ش.- تر لږ ځنډ وروسته له۶۰موکلونوڅخه تر۱۳۷۰پورې یې خپروني درلودې.<br>۱۳۸۱ | دري، پښتو او انګلیسي | درې میاشتنی | د کوشاني څېړنو نړیوال مرکز |
| ۵ | د افغانستان لرغونپېژندنه مجله | ۱۳۵۸- ۱۳۶۶ ژمی<br>۱۳۶۸- یوازې ۱۵ او ۱۶ګڼه<br>۱۳۸۴ | دري، پښتو او انګلیسي | درې میاشتنی | د لرغونپېژندنې مرکز |
| ۶ | پښتو مجله | ۱۳۱۱-۱۳۱۶<br>۱۳۵۶- ۱۳۷۰<br>۱۳۸۱ | د یونسکو ژبې | درې میاشتنی | د پښتو څېړنو نړیوال مرکز |
| ۷ | خراسان مجله | ۱۳۵۹ تر۴۲ګڼې پورې<br>۱۳۷۰-تر۴۳، ۴۴او۴۵ګڼو پورې په درې میاشتنی بڼه<br>۱۳۸۱ | دري | درې میاشتنی بیا دوه میاشتنۍ | د ژبو او ادبیاتو مرکز، د دري ژبې او ادب انستیتوت |
| ۸ | طبیعت مجله | ۱۳۶۸ یواځې یوه ګڼه<br>۱۳۷۴ یواځې یوه ګڼه<br>۱۳۸۱ | دري او پښتو | درې میاشتنی | د طبیعي- تخنیکي علومو د برخې معاونیت |
| ۹ | تبیان مجله | ۱۳۷۹لومړۍ دوره<br>۱۳۸۲ دوهمه دوره دوه ګڼې<br>۱۳۸۳دریمه دوره | دري او پښتو | درې میاشتنی | د اسلامي علومو د برخې معاونیت |
| ۱۰ | سیمه ییزمطالعات مجله | ۱۳۸۵ | دري او پښتو | درې میاشتنی | د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز |
| ۱۱ | زیري جریده | ۱۳۱۶-۱۳۲۰<br>۱۳۳۱-۱۳۶۶<br>۱۳۸۱ | پښتو | اونیزه فعلاً ۱۵ورځنۍ | د ژبو او ادبیاتو مرکز، د پښتو ژبې او ادب انستیتوت |
| ۱۲ | تفکر جریده | ۱۳۸۶ | دري او پښتو | میاشتنی | د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست |
| ۱۳ | د ساینس او تکنولوژۍ اخبار | ۱۳۸۶ | پښتو، دري او د یونسکو ژبې | شپږمیاشتنی | د طبیعی- تخنیکي علومو د برخې معاونیت |

**د علومو اکاډمي تقنیني اسناد**

د افغانستان د علومو اکاډمي قانون: علومو اکاډمي یو قانون لري چې:

لومړی ځل په ۱۳۶۰ش.کال په ۵۰۲ګڼه رسمي جریده کې خپور شو او څلور فصلونه او۳۴مادې یې درلودې.

دوهم ځل د علوموااکاډمي قانون، چې د۱۳۸۷ش.کال د چنګاښ په **۳مه** په **۹۴۹**ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی، څلور فصله او۳۹مادې دی. دا قانون یوه ضمیمه هم لري.

علوموااکاډمي پنځه مقررې او څو لایحې لري، چې د علوموااکاډمي د قانون او مقررو په رڼا کې جوړې شوې دي.

**دعلومو اکاډمی مقرری:**

۱. د افغانستان د علومو اکاډمي د علمي کادر مقرره.
۲. د افغانستان د لوړو زده کړو له مؤسسو سره د افغانستان د علومواکاډمي د علمي رتبو د معادلت مقرره.
۳. د افغانستان په علمي – څېړنیزو مؤسسو کې د علمي څېړنو مقرره.
۴. د افغانستان د علومواکاډمي د انتخاباتو مقررهٔ.
۵. د افغانستان د علومواکاډمي د رئیس، مرستیالانو او علمي منشي د دندو مقرره.
۶. د علومواکاډمي او د لوړو زده کړو د مؤسسو د علمي- څېړنیزو او نشراتي فعالیتونو مقرره.

په دې مقرره کې د علمي- څېړنیزو او نشراتي فعالیتونو اړوند موضوعات راغلي او د تألیف، تدوین، ژباړې، تقریظ، اهتمام، لارښووني او... حق الزحمې تاکل شوې دي. د یادونې وړ ده، چې مخکې علومواکاډمي او د لوړو زده کړو وزارت په دې برخه کې جلا جلا مقررات درلودې، خو دا مقرره د وخت د اړتیا له مخې په ۱۳۸۱ش.کال د جمهور رئیس د فرمان پر بنسټ د بیا غور کولو لپاره عدلیې وزارت ته واستول شوه. د نوموړي وزارت تر نظر لاندې یو کمیسیون توظیف شو، چې تر لازمو تعدیلاتو، د قانوني پړاوونو تر وهلو او د منظورۍ تر اخیستلو وروسته د ۱۳۸۲ش. کال د لړم د میاشتې په ۱۸مه توشیح او نوموړې مقرره د « د علمي – څېړنیزو مؤسسو د علمي، څېړنیزو او نشراتي فعالیتونو د حق الزحمې مقرره » په نامه یاده شوه.

**د علومو اکاډمی لایحی**

۱. د افغانستان علومواکاډمي د نوو علمي غړو د جذب لایحه.
۲. د علومواکاډمي د علمي غړو د علمي ترفیعاتو لایحه.
۳. د علمي کارکوونکو د دندو لایحه.
۴. د لارښود استادانو د فعالیت لایحه.
۵. نشراتي لایحه.
۶. د کتابتون لایحه.
۷. د انسجام د کمیسیونونو لایحې.

په ذکر شوي قانون، مقررو او لایحو کې د رئیس، مرستیالانو، علمي منشي، د مرکزونو د رئیسانو، د انستیتوتونو او ډیپارټمنتونو د آمرینو او علمي غړو واکونه، مسئولیتونه او ددندې تشریح، توضیح او تنظیم شوې دي.

**د افغانستان د علومواکاډمي له قانون سره سم** د تحصیلي درجې او علمي سویې په پام کې نیولو سره د علمي کارکوونکو علمي رتبې په لاندې ډول تنظیم شوي دي:

- څیرنیار - معاون محقق JUNIOR ASSISTANT PROFESSOR
- څیرندوی - محقق ASSISTANT PROFESSOR
- څېړنوال - معاون سرمحقق ASSOCIATE PROFESSOR
- څیرنپوه - سرمحقق PROFESSOR

سربېره پر دې د علومواکاډمي په قانون کې د« کاندید اکاډمیسین او اکاډمیسین»لوړې علمي رتبې هم تسجیل شوې دي، چې په لومړي ځل د ځانګړو مراسمو په ترځ کې د۱۳۶۵ش.کال د لیندۍ میاشتې په شپږمه (۱۹۸۶م.) له بېلابېلو ادارو او د علومو له بېلابېلو څانګو څخه منتخب شوو

اشخاصو ته د جمهور رئیس له خوا ورکړل شوي او نهه تنه اکاډمیسینان او ۳۲تنه کاندید اکاډمیسینان به کې شامل وو.

**I . اکاډمیسینان**

۲. سلیمان لایق، د علومو اکاډمي رئیس ، د ادبیاتو څانګه.
۲. پوهاند عبدالشکور رشاد، د علومو اکاډمي غړی ، د ادبیاتو څانګه.
۳. پوهاند دکتور عبدالاحمد جاوید، د علومواکاډمي د دري ژبې او ادبیاتو ډیپارټمنټ آمر، د ادبیاتوڅانګه.
۴. عبدالواحد سرابي، د اقتصادڅانګه.
۵. عبدالله شارق، د جیولوژي څانګه.
۶. غلام دستګیر پنجشیری، د ادبیاتو څانګه.
۷. پوهاند دکتور غلام فاروق اعتمادي، د تاریخ څانګه.
۸. فقیر محمد یعقوبي، د اتومي فزیک څانګه.
۹. دوکتور محمد موسی وردک، د طب (اورتوپیدی) څانګه.

**II . کاندید اکاډمیسینان**

۱. پوهاند دکتور احمد شاه جلال، د کابل پوهنتون استاد.
۲. پوهندوی دکتور اسدالله حبیب، د کابل پوهنتون استاد.
۳. پوهاند دکتور بلبل شاه جلال، دعلومواکاډمي د کیمیا، بیولوژي او زراعت مرکز رئیس.
۴. دکتور حیدر مسعود.
۵. دکتور سامیه عبادي روشنګر، د علومواکاډمي غړې.
۶. عبدالرحمن پهوال، د علومواکاډمي غړی.
۷. عبدالرحیم خوشدل، د کابل پوهنتون استاد.
۸. عبدالرشید رؤف، د پلان د دولتي کمېټې د زراعت و انکشاف رئیس.
۹. عبدالسمیع غفاري، په علومواکاډمي کې د اوبو د ستونزو د انستیتوت آمر.
۱۰. پوهنوال عبدالصمد سلیم، دکابل پوهنتون د ځمکپوهنې د پوهنځي رئیس.
۱۱. عبدالغفور باهر، سلاکار وزیر.
۱۲. دعلومو دکتور څېړنپوه عبدالکبیر رنجبر، د علومو اکاډمي علمي غړی.
۱۳. عبدالمجید نباتي، د لوړو زده کړو وزارت معین.
۱۴. دوکتورعلي احمد، د طب د دولتي انستیتوت استاد.
۱۵. پوهاند شاه علي اکبر شهرستاني، د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي رئیس.
۱۶. غلام ابوبکر، د زراعت او ارضي اصلاحاتو وزارت د مالدارۍ معین.
۱۷. پوهنوال دکتور غلام محمد بهرام، د زراعت وزارت د زراعتي څېړنو د مرکز رئیس.
۱۸. پوهاند فقیر محمد زمری، دکابل پوهنتون استاد.
۱۹. ګل احمد خالدي، د زراعت وزارت د زراعتي څېړنو د انستیتوت مرستیال.
۲۰. محمد ابراهیم عطایي، د علومو اکاډمي غړی.
۲۱. محمد اعظم سیستاني، د علومواکاډمي د ټولنیزو علومو د مرکز رئیس.
۲۲. محمد اکرم عثمان، د علومواکاډمي د تاریخ او اتنوګرافۍ انستیتوت آمر.
۲۳. محمد انور نومیالی، د علومو اکاډمي غړی.
۲۴. محمد امین امام، دکابل پوهنتون استاد.

۲۵. محمد حسین هلالي، د کابل د پولیتخنیک انستیتوت رئیس.
۲۶. پوهاند محمد رحیم الهام، د علومواکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز رئیس.
۲۷. څېړنپوه محمد صدیق روهي، د علومو اکاډمي غړی.
۲۸. محمد ظاهر افق، د علومو اکاډمي مرستیال.
۲۹. دکتور محمد یعقوب واحدي، د علومواکاډمي غړی.
۳۰. دکتور محمود حبیبي، د ژورنالستانو د اتحادیي مرستیال او د علومواکاډمي غړی.
۳۱. دوکتور مهر محمد اعجازي، دکابل د طب انستیتوت رئیس.
۳۲. پوهاند میر حسین شاه، دکابل پوهنتون استاد.

❖ د علومواکاډمي رئیس(۱۳۶۷ش.کال)پوهنمل ګلداد لپاره د اکاډمیسینانو په ۱۰/ ۶/ ۱۳۶۷نېټه غونډه کې د اکاډمیسینۍ د رتبې ځانګړی وړاندیز وشو او د جمهور رئیس تر تائید او منظورۍ وروسته ورکړل شوه.
❖ د علومواکاډمي رئیس(۱۳۷۲ش.کال)عبدالاحد عشرتي ته د علومواکاډمي په وړاندیز او د جمهور رئیس په منظورۍ د اکاډمیسینۍ رتبه ورکړل شوه.
❖ استاد برهان الدین رباني، افتخاري اکاډمیسین.
❖ آیت الله العظمی شیخ محمد آصف محسنی، افتخاري اکاډمیسین.

د علومواکاډمي د قانون پر بنسټ، د اکاډمیسینانو او کاندید اکاډمیسینانو شمېر او ترکیب د علمي شورا په تصویب او د وزیرانو شورا په منظورۍ تحقق مومي.

د اکاډمیسین رتبې ته د انتخابېدو لپاره کم تر کمه **۵۰**خپاره شوو تخصصي آثارو، چې له دې جملې څخه **۱۰** آثار يې ابتکاري او ابداعي وي او د کاندید اکاډمیسین لپاره کم تر کمه **۴۰** خپاره شوو تخصصي آثارو، چې له دې جملې څخه **پنځه** آثار يې ابتکاري او ابداعي وي، اړتیا ده. د اکاډمیسینانو او کاندید اکاډمیسینانو د علمي آثارو تائید او ارزونه د علمي شورا په وړاندیز د واکمن علمي کمیسیون له خوا کیږي. اکاډمیسینان او کاندید اکاډمیسینان د شرایطو تر بشپړولو او د ارزووني د کمیسیون تر تائید وروسته د علومواکاډمی د عمومي مجمع له خوا د پټو او مستقیمو رایو له لارې د رایو په اکثریت انتخاب او د جمهور رئیس تر منظورۍ وروسته له خپلې تخصصي ځانګې سره سم په یو علمي مرکز کې فعالیت کوي.

د تشې چوکۍ د شتون په صورت کې د علومواکاډمي عمومي مجمع له هرو دریو کالو وروسته غونډه کوي.

اکاډمیسین او کاندید اکاډمیسین له ۷۵کلنۍ عمر وروسته تقاعد ته سوق کیږي. د وسې او غوښتنې په صورت کې، د علمي شورا په وړاندیز او د جمهور رئیس د منظورۍ پر بنسټ د ژوند تر پایه علمي- څېړنیزو فعالیتونو ته دوام ورکولی شي.

دعلمي کادر د غړو او اکاډمیسینانو مادي حقوق او امتیازات په لاندې حالاتو کې قطع کیږي:
- په علمي چارو کې ناکامي، د علمي شورا په تشخیص او د جمهور رئیس په منظورۍ.
- د دې قانون له احکامو سره د مغایرو فعالیتونو تر سره کول، د علمي شورا په تشخیص او د جمهور رئیس په منظورۍ.
- د واکمنې محکمې له خوا د ملي خیانت په جرم محکومېدل.